Women's Peace & Humanitarian Fund
A United Nations & Civil Society Partnership

# د شاخص ښوون پاڼه

## د WPHF د اغیزې 5 سیمه: د ښځو او نجونو خوندیتوب

لاندې ښوون پاڼه د WPHF مرستې کونکو ته د لازمو شاخصونو په اړه لارښودنه کوي چې د WPHF د اغیزې 5 سیمې لپاره کارول کیږي: د ښځو او نجونو خوندیتوب. دا نور وړاندیز شوي شاخصونه هم راکوي او د شاخصونو، بنسټونو، او موخو، او د تایید وسیلو کارولو په اړه ځینې عمومي لارښوونې کوي[1].

### د پایلو چوکاټ

**د اغیز بیان دا دی: د ښځو او نجونو زیاته ساتنه، امنیت او رواني روغتیا او د دوی بشري حقونو ته درناوی.**

تاسو باید دا بیان د اغیزې په کچه وکاروئ او د اړتیا وړ شاخصونو له فهرست څخه خوښ کړئ (په راتلونکې برخې کې تعریفونه وګورئ). تاسو باید د پایلو خپل بیانات، د محصول بیان او شاخصونه[2] هم په خپلو پروژو پورې اړوند تیار کړئ.

| متوقع پایلې | شاخصونه | د تایید وسیلې/سرچینې | چارې | بودیجه |
|---|---|---|---|---|
| **اغیزه**<br>د ښځو او نجونو د زیاتې ساتنې، خوندیتوب او رواني روغتیا او د هغوی د بشري حقونو درناوی[3] | کم تر کمه دوه پکښې خوښ کړئ (2):<br><br>5.1. د CSOs شمیر او فیصدي، چې راپور د جنسي او جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي (SGBV) د پای ته رسولو لپاره ډیر نفوذ او چاره لري[4]<br><br>5.2. تر کومې کچې چې د مدني ټولنې لخوا د ټولنیز حساب ورکونې میکانیزمونه د SGBV د پای ته رسولو لپاره د څارنې او کډون لپاره کارول کیږي<br><br>5.3. د سیمه ایزو ښځو سازمانونو شمیر، یا خپلواکه ټولنیز حرکتونه چې د CSOs پای ته رسولو هڅو همغږي کويSGBV | د CSO نمونې سروې یا مرکې<br><br>د اسنادو بیاکتنه، مرکې یا کتنې<br><br>د اسنادو بیاکتنه یا مرکې | | |
| **پایلې[5]**<br>تاسي د خپلې پروژې پر بنسټ د پایلو بیانونه چمتو کړئ. | د پایلو په کچه د لاسرسي دوه شاخصونه پکښې شامل کړئ:<br><br>R1. د هغو خلکو شمیر چې په مستقیمه توګه له غبرګون څخه ګټه اخلي(د جنسیت، عمر ګروپ، یا نورو متغیرونو[6] له مخې) | د اسنادو بیاکتنه/ د ګډون کوونکو لیست<br><br>د اسنادو بیاکتنه/ اټکل | | |

---

[1] د څارنې او ارزونې یو جلا لارښود به ټولو مرسته کونکو لره تیار کړل شي کوم چې د څارنې او ارزونې طریقې په هلکه ډیرې ژورې تخنیکي لارښوونې برابروي، په ګډون د پایلو چوکاټ د جوړولو د طریقې.
[2] ستاسو د پایلو په چوکاټ کې باید د څومراه والي او څرنګوالي د شاخصونو ترمنځ توازن وي. د څرنګوالی شاخصونه تاسو ته اجازه درکوي چې د افرادو او ډلو تجربې، نظرونه او پوهه په ژوره توګه څیړئ او د "څنګه" او "ولې" بدلونونو په تشریح کولو کې مرسته درسره کوي .
[3] **اغېزې** د پروژې هغه اوږدمهاله بدلون وي چې تمه کیږي د پایلو د لاسته راوړلو په پایله کې وړاندې شي. داسې نه ده چې بدلون باید په ملي کچه رامنځ ته شي. د اغیز اټکل په تاسو پورې اړه لري .
[4] **SGBV** د جنسي، بدني، رواني او احساساتي ناوړه ګټه اخیستنې هر هغه ناوړه عمل لپاره یوه داسې اصطلاح ده چې د چتر حیثیت لري چې د یو چا پرضد د دوی د جنسیت او غیر مساوي واک او اړیکو پر بنسټ ترسره کیږي. ممکن په دې کښې د تاوتریخوالی ډیری ډولونه وي لکه جنسي تیري، ځوروني، زورزیاتی، استحصال، زورکي واده، د نږدې ملګري تاوتریخوالی یا کورنی تاوتریخوالی، قاچاق، د میرمنو تناسلي خطنې او داسې نور. .
[5] **پایلې** هغه منځمهاله بدلونونه وي چې تمه کیږي د مکمل شویو محصولاتو له امله رامنځته شي. تاسو کولای شئ یوه یا څو پایلې ترلاسه کړئ. زیات تر زیاته 2 پایلې یو ښه قاعده ده. د پایلې بیان یوه بیلګه "د شخړو د مخنیوي میکانیزمونو پلي کولو کې د سیمه ایزو شریکانو د همغږۍ زیاتوالی دی..″
[6] نور متغیرات (یا **بیلتون**) کې د اړتیا په صورت کې معلولیت، بې ځایه شوي یا کډوال، د ښځو په مشرۍ کورنۍ او نور شامل دي..
[6] د غیر مستقیمې ګټه اخیستونکي تعریف وګورئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | R2. د هغو کسانو شمیر چې په غیر مستقه توګه له غبرګون څخه ګټه اخلي<br><br>او د هرې پایلې لپاره 2-1 اضافي شاخصونه رامینځته کړئ چې ستاسو د پروژې بدلون نیسي. | د مرستې کونکي لخوا ټاکل کیږي | | |
| **محصول (محصولات)**[7] د هرې پایلې لپاره د محصولاتو مجموعه تیاره کړئ. | د هر محصول لپاره 2-1 شاخصونه جوړ کړئ | د هر شاخص لپاره به د مرستې کونکي لخوا ټاکل کیږي | د هر محصول لپاره، خپل فعالیتونه په فهرست کښې واچوئ | د هر محصول لپاره، د بودیجې مقدار پکښې واچوئ |

## ضروري شاخصونه

د WPHF ګرانټیز یعنې مرستندویانو په توګه، تاسو ته لازمه ده چې د معیاري شاخصونو یوه ټولګه وکاروئ (جدول 1 وګورئ) چې د جهاني راپور ورکولو او ستاسو د پروژو د اغیزو او لاسرسي بیانولو کښې اسانتیا راولي.

له همدې امله، تاسو باید غوره کړئ:

- **کم تر کمه یو** د اغیزې کچې شاخصونه؛ او
- **دوه** د لاسرسي شاخصونه (مستقیم او غیر مستقیم ګټه اخیستونکي)

تاسو اضافي شاخصونه اضافه کولای شئ، لکه څنګه چې ستاسو په پروژې پورې اړوند وي. یو ښه قاعده دا ده چې د هرې پایلې او محصول بیان تر دریو (3) شاخصونو زیات نه وي.

### جدول 1: د شاخص تعریفونه (ضروري شاخصونه)

| د پایلو وړاندیز کړ شوي شاخصونه | تعریفونه |
|---|---|
| **5.1 د اغیزې شاخص** د CSOs شمیر او فیصدي، چې د SGBV د پای ته رسولو لپاره د کار کولو لپاره ډیر نفوذ او چارې راپور ورکوي | دا یو د خومره والي شاخص دی او د CSOs هغه شمیر په ګوته کوي (ستاسود سازمان په شمول) چې احساس کوي دوی د شځړو یا بیروني شرایطو کې د جنسي او جنډر پراساس تاوتریخوالي (SGBV) پای ته رسولو کې کار کولو یا مرسته کولو لپاره چارې ته پراخوالی ورکړی دی.<br>ایجنسي یعني چاره د SGBV مخنیوي او غبرګون ښودلو کې د تصمیم نیولو په برخه کې د نفوذ، ونډې، ګډون، یا مشرتابه زیاتوالي ته اشاره کوي. دا د سازمانونو وړتیا هم راپه ګوته کوي چې په ګډه ایز ګام واخلي، خپل غږ پورته کړي او موخې تعریف کړي او عمل وربانډې وکړي.<br>په دغو کښې د VAWG په اړه د تولنې د چلند بدلولو کې ستاسو د سازمان یا نورو CSOs وړتیا شامله ده، په بریالیتوب سره د سیمه ایزو یا سیمه ایزو حکومتونو لخوا د SGBV مخنیوي او/یا غبرګون ښودلو لپاره، د خاېي مقرراتو سره مرسته کول، یا د بچ پاته شویو لپاره د انصاف یا خدماتو غوښتنه کول پکښې شامل دي. دا د مشاورت او مهارت لپاره د چارواکو یا خدمات چمتو کونکو لخوا د مشورې له لارې هم ښودل کېدلای شي، یا په جګړو او بشري وضعیتونو کې د ښځو او نجونو د ساتنې لپاره له نویو میکانیزمونو رهبري کولو سره، او داسې نور.<br><br>په کوم ځای کښې چې د تطبیق وړ وي، شاخص د سازمان له ډول سره سم جلا کړئ. د بېلګې په توګه، د ښځو په مشرۍ سازمان، د ځوانانو په مشرۍ سازمان، پر معلولیت بانډې مرکوز سازمان، یا نور د سازمانونو نور ډولونه.<br>تاسو کولای شئ ټوله 'شمیره' راپور کړئ او د 'فیصدي' واحد کارولو ته اړتیا نهٔ شته. که تاسو غواړئ ، د شمیر سربیره، یوه فیصدي چمتو کړئ نو دا د CSOs ټول شمیر په تقسیم سره محاسبه کیږي چې د ډیر نفوذ او اداري راپور ورکوي، په نخښه شوي سیمه کې د CSOs ټول شمیر سره تقسیمېږي. د بېلګې په توګه، 28٪ (5 له 18 CSOs څخه). د دې شاخص په اړه د |

7 **محصول** د وېشلو وړ کلک یعنې کانکریټ وي، هغه محصول یا خدمت چې د پلي شوي فعالیتونو په پایله کې چمتو کیږي. د محصول بیان یوه بېلګه دا ده: "د بشري ناورین پرمهال د ښځو او انجونو لپاره د خدماتو د موجودیت په اړه معلوماتو ته د لاسرسي چمتو کېدل".

| | |
|---|---|
| | معلوماتو راټولولو لپاره د سروې کارول یو انتخاب دی.<br><br>که تاسو په مستقیمه توګه له CSOs سره کار نه کوئ، کېدلای شي تاسو په شاخص کې بدلون راوستل غواړئ او "د هغو میرمنو شمیر یا فیصده اندازه کوئ چې د SGBV علاج کولو کې د لویې ایجنسي یعني چارې راپور ورکوي"، یا په یوه سازمان کې، ستاسو د هغه په شمول، د بدلونونو تشریح کولو لپاره اضافي کیفي شاخص اضافه کوئ. |
| **د اغیزې شاخص 5.2** تر کومه حده چې د مدني ټولنې لخوا د ټولنیزې محاسبې ورکونې میکانیزمونه د SGBV د ختمولو لپاره د څارنې او اشتراک لپاره کارول کیږي | دا یو د څرنګوالي شاخص دی چې دا راپه ګوته کوي چې څومره ځانګړي میکانیزمونه کارول کیږي، چې د ځایي چارواکو او حکومت محاسبه وشي او د جګړې یا بشري اوضاع په پایله کې د SGBV خطرونه کم کړي. دا هغه میکانیزمونه دي چې ستاسو سازمان یا نور CSOs هڅولای شي. تاسو کولای شئ اندازه (1-5) وکاروئ چې څرګنده کړئ چې دا میکانیزمونه څومره کارول کېدلای شي.<br>د ټولنیزې محاسبې میکانیزمونو ځینې بیلګې په لاندې ډول دي: د ټولنې د څارنې سیسټمونه، د ټولنې یا خدماتو وړاندې کولو سکور کارډونو کارول، په شخړو او بشردوستانه اوضاع کې د SGBV د محرکاتو په اړه د جنسیت پر بنسټ شننه، او د کارې ځواکونو یا ځانګړې محکمو او د SGBV کمولو لپاره کارې ډلې.<br><br>کېدلای شي په نورو میکانیزمونو کې له جګړې / کړکیچ اغیزمن شوي ژوندي پاتې کیدو لپاره بیړنې فنډونه، د ګډون پلان جوړونه، او د جنسیت پر بنسټ بودیجه، د روغتیا او حقوقي خدماتو په برخو کې د معلوماتو سیسټمونه، د بې نومه لاربښوونو لیکونو یا ګرځنده راپور ورکولو، یا ځانګړې میکانیزمونه شامل وي چې ډیرې محرومې ډلې په نخښه کوي. د ټولنیزې محاسبې میکانیزمونه د شرایطو پر بنسټ مختلف ډولونه لري.<br>لطفاً په یاد ولرئ چې یوازې د خدمات کارونکو خلکو په شمیر کې د زیاتوالي راپور ورکول ممکن د اغیزمنتوب څرګندونه ونه کړي، ځکه چې د دې مانا ده هم کېدلای شي چې د قضیو زیاتوالی شته، یا که په راپور ورکولو کې کمی وي، نو مانا یې دا ده چې د راپور په ورکولو کښې ویره شته. |
| **د اغیزې شاخص 5.3** د سیمه ایزو ښځو سازمانونو شمیر، CSOs یا خپلواکه ټولنیز حرکتونه چې د SGBV ختمولو هڅو همغږې کوي | دا یو د څومره والي شاخص دی چې د سازمانونو ټول شمیر (ستاسو د هغه په شمول) یا د پروژې لخوا ملاتړ شوي حرکتونه حسابوي، کوم چې یوځای همغږې کوي او په شریکه کار کوي چې په شخړو یا بیړنیو حالاتو کې SGBV ختم کړي.<br>د SGBV ختمولو لپاره د مداخلو په هکله همغږې کول یا په شریکه کار کول ممکنه د ایډووکېسي بیانونو رامینځته کول، د تصمیم نیولو پروسو کې برخه اخیستل، د ښه خوندیتوب او خدماتو ته د لاسرسي لپاره د ګډ ځایي یا ملي کمپاینونو ترسره کول، د نارینه ایډووکیټس شاملول، د نورو ښځو سازمانونو او CSOs سره د همکارۍ پیښې، یا د مخنیوي په برخه کې د سیمه ایزو یا سیمه ایزو حکومتونو لخوا د نویو ژمنو لپاره بریالي ایډووکیسي. د مداخلو موخه د SGBV ختمولو لپاره د موظفینو یا متنفذینو چلند بدلول دي.<br>چیرې چې د تطبیق وړ وي، شاخص د سازمان د ډول لمخې سره جلا کړئ. د بیلګې په توګه، د ښځو په مشرۍ سازمان، د ځوانانو په مشرۍ سازمان، پر معلولیت باندې مرکوز سازمان، یا نور د سازمانونو نور ډولونه. |
| **دواړه څېړنیز شاخصونه وکاروئ. د خپل لاسرسي شاخصونه د پایلې پر کچې باندې کښېږدئ.** | |
| **د لاسرسي شاخص 1:** د هغو خلکو شمیر چې په مستقیمه توګه له غبرګون څخه ګټه پورته کوي (د جنسیت، عمر ګروپ، یا نورو متغیرونو له مخې) | دا مستقیمه ګټه اخیستونکي هغو اشخاصو، ډلو یا سازمانونو ته اشاره کوي، څوک چې ستاسو له مداخلې څخه مستقیمه ګټه اخلي، یا ستاسو له فعالیتونو څخه مستقیم ترلاسه کونکي دي او د پایلو چوکاټ کې د محصول او پایلو بیاناتو کې په واضح ډول بیان شوي وي. مستقیم ګټه اخیستونکي او هدف لرونکي ګروپونه یو شان دي.<br>مستقیم ګټه اخیستونکي باید د جنس او عمر ګروپ (تر 18 کالو کم او تر 18 کالو زیات عمر) له مخې سره جلا شي. که اړتیا وي نو نور توپیرونه شامل کېدلا شي (د بیلګې په توګه معلولیت، بې ځایه شوي، کډوال یا د کوربه ټولنې غړې، هغه کورنۍ چې مشرې یې میرمنې وي، برخه اخیستونکي، او نور). |
| **د لاسرسي شاخص2:** د هغو خلکو شمیر چې په غیر مستقیمه توګه له غبرګون څخه ګټه اخلي | هغو غیر مستقیم ګټه اخیستونکي اشخاصو، ډلو یا سازمانونو ته اشاره کوي څوک چې ستاسو د مداخلو مستقیم هدف نه وي لکه څنګه چې د پایلو په چوکاټ کې بیان شوي مګر په غیر مستقیمه توګه ستاسو د فعالیتونو له لارې اغیزمن شوي وي. دوی کېدلای شي د ټولنې نور غړي وي، یا د کورنۍ هغه غړي وي چې د مستقیم ګټه اخیستونکي ګډون له مداخلو څخه مثبته |

| | |
|---|---|
| ګټه اخلي.<br>د غیر مستقیم ګټه اخیستونکو محاسبه معمولا د اوسط کورنۍ اندازې په اخیستلو او ستاسو د مستقیم ګټه اخیستونکو ته په ضرب ورکولو سره ترسره کیږي. دا ممکن غبرګه شمیرنه رامینځته کړي ، نوځکه خو د کوچني اوسط اندازې کارول به ښه وي. د بېلګې په توګه، که د کورنۍ اوسط اندازه 5 وي او مستقیم ګټه اخیستونکي 100 وي، نو تاسو به داسې ضرب ورکړئ 500 = 100 x 5.<br>غیر مستقیم ګټه اخیستونکي ضروري نه ده چې سره جلا شي. | |

## د پایلو نور ورانديز شوي شاخصونه

د پایلو لاندیني شاخصونه فقط هغه وړاندیزونه دي چې تاسو سره مرسته کوي کله چې ستاسو شاخصونه د پایلو کچې په اړوند تعریف کړئ. دا لازمي نه دي.

| د پایلو وړاندیز کړ شوي شاخصونه | تعریفونه |
|---|---|
| د مېرمنو، سړیانو، انجونو او هلکانو شمیر چې د جنسیت غبرګون ورکونکي روغتیا، رواني ټولنیز او حقوقي ملاتړ ته لاسرسی لري | دا یو د څومره والي شاخص دی او د ښځو، سړیانو، انجونو یا هلکانو ټول شمیر حسابوي چې د ملاتړ خدمتونه یې کارولي وي چې د دوی اړتیاوو ته غبرګون ښیي او د دوی د ساتنې ملاتړ کوي. په دې کښې کېدلای شي روغتیایي خدمتونه لکه جنسي او د زیږون روغتیا خدمتونه، رواني ټولنیز خدمتونه لکه کاونسلنګ یعنې د زړه خواله، یا قانوني مشوره، یا د SGBV سره په تړاو کې د روغتیا یا عدلي خدماتو لپاره راجع کول شامل وي.<br>د دې شاخص لپاره ډاټا اکثرا د روغتیایي تاسیساتو له خدماتي احصایو یا قانوني کلینیکونو څخه ترلاسه کیږي.<br>دا شاخص باید د جنس او عمر ګروپ (تر 18 کالو زیات او تر 18 کلونو کم) لمخې سره جلا شي، هرکله چې داسې ممکن وي. |
| د ښځو او نجونو د خوندیتوب، ساتنې او رواني روغتیا لپاره د میکانیزم پیاوړي کړل شوي ډولونه | دا یو د څرنګوالي شاخص دی او د میکانیزمونو ډولونه بیانوي چې بهتري پکښې راغلې وي.<br>په میکانیزمونو کې کېدلای شي روغتیایي خدمتونه، حقوقي یا عدالتي خدمتونه، رواني ټولنیز خدمتونه، د راجع کولو سیستمونه، یا نورې پروسې شاملې وي چې په مستقیمه توګه د جګړې یا بشردوستانه شرایطو په جریان کې د ښځو او نجونو د خوندیتوب او رواني روغتیا ملاتړ کوي. نور مثالونه کېدلای شي د ټولنې د څارنې هغه میکانیزمونه وي چې د هغو ښځو او نجونو د پیژندلو او ملاتړ لپاره وي چې د تاوتریخوالې قرباني شوي وي، هغه میکانیزمونه چې د جګړې یا بشري بحران په پایله کې د ښځو او کورنیو بنسټیزو اړتیاوو ته غبرګون ورښیي. |
| د ښځو د بشري حقونو د مدافعینو / د ښځینه سولې جوړونکو شمیر چې د ملاتړ سیستمونو ته لاسرسی لري | دا یو د څومره والي شاخص دی او د ښځو د بشري حقونو د هغو مدافعینو (WHRDs) یا د سولې جوړونکو ټول شمیر حسابوي چې ستاسو د پروژې لخوا چمتو کړ شوی یا پیاوړي کړ شوي د ملاتړ سیستمونه کاروي.<br>WHRDs هغه څوک دي چې د ښځو د حقونو او د جنډر یعني جنسیت مساواتو په وده او ساتنه کې شریک دي او همدارنګه ټولې ښځې په انفرادي توګه او له نورو سره په شریکه د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو پورې اړوند هرې ستونزې کې اشتراک کوي. دوی اکثرا د جنسیت مشخص خطرونو، ګواښونو، خوف، یا د دوی د بشري حقونو د کار له امله قضایي څورونو سره مخامخ وي.<br>د ملاتړ سیستم هغه پروسو یا میکانیزمونو ته په ګوته کوي چې د WHRDs د ساتنې یا تایید لپاره چمتوکړ شوي وي لکه د سرغړونو لپاره د راپور ورکولو سیستمونه، د WHRDs لپاره د جسماني او رواني ټولنیز ملاتړ خدمتونه، د پیوستون لپاره رغول شوي شبکې، محفوظ کورونه یا لارې، یا د ساتنې نور پروګرامونه.<br>دا شاخص باید د جنس او عمر ګروپ (تر 18 کالو زیات او تر 18 کلونو کم) لمخې سره جلا شي، هرکله چې داسې ممکن وي. |
| د ښځو د حقونو د ساتنې لپاره د ملاتړ چمتو شوي سیستمونو شمیر او ډولونه | دا د څومره والي او څرنګوالي یعنې کمیتي او کیفیتي دواړو شاخص دی او شمیره حسابوي او هغه د ملاتړ سیستمونو ډولونه تشریح کوي چې پروژې د ښځو او نجونو د خوندیتوب لپاره چمتو کړي وي. |

| | |
|---|---|
| | د ملاتړ سیستم هر هغه پروسه یا میکانیزم دی چې د پروژې لخوا چمتو شوی وي، ملاتړ یا پیاوړی شوی وي چې جسماني او رواني تولنیز زیانونه، یا قانوني خنډونه په نخښه کوي چې په جګړو او بشري حالاتو کې ښځې او نجونې ورسره مخامخ کیږي. په دې کې کېدلای شي د تولنې د څارنې کمیټې، د راجع کولو سیستمونو، بې نومه لاربښودو لیکو یا ګرځنده راپور ورکولو، سرپناه یا د استوګنې یا مشورې ورکولو لپاره خوندي ځایونه، یا ځانګړي میکانیزمونه شامل وي چې د وضعیت پر بنسټ ډېرې محدودې ډلې په نخښه کوي. |
| د قضایي او پولیسي ادارو شمیر او فیصدي د ځواکمن مهارت سره د جنسیت اړوند خوندیتبو ځانګړې اړتیاو ته د ښه غبرګون ورښودلو لپاره | دا یو د څومره والي شاخص دی او د انصاف او/یا د پولیسو نهادونو شمیر حسابوي چې د هغو میرمنو لپاره چې د تاوتریخوالي سره مخامخ وي د غبرګون ښودلو په اړوند د دوی پوهه یا مهارت ښه شوی وي (یا بدل شوی وي)، په شمول د SGBV د شخړو کې، وروسته له جګړې، یا بیړني حالاتو کښې.<br>په دې کې د عدلي یا حقوقي بنسټونو لخوا د تاوتریخوالي د قضیو د راپور ورکولو په وخت کې ښه ګډون، ارتباطات، یا راجع کول شامل دي، یا د ښځو او نجونو د خوندیتوب اړتیاو ته د غبرګون ښودلو لپاره نوي روزل شوي یا ګمارل شوي پرسونل.<br>تاسو باید توله 'شمیره' راپور کړئ او د 'فیصدي' واحد کارولو ته اړتیا نه لرئ. که تاسو غواړئ یو فیصده چمتو کړئ، پر شمیر سربیره، نو دا له پیاوړو مهارتونو سره د تولو بنسټونو شمیر په ویشلو سره محاسبه کیږي، د تولو ادارو شمیر چې تاسو په خپله پروژه کې په نخښه کوئ. د مثال په توګه، 50٪ (5 له 10 موسسو څخه). |

## شاخصونه څه وي؟

شاخصونه د 'څومره والي یا څرنګوالي یعني کمي یا کیفیتي عواملو یا متغیرونو په توګه تعریف شوي چې د لاسته راوړنې اټکل کولو لپاره ساده او باوري وسیله راکوي، له مداخلې سره اړوند بدلونونه منعکس کړي، یا د پراختیایي فعال فعالیت ارزولو کې مرسته کوي'[8].

په ساده توګه ویلای سو، شاخصونه '**اشاري**' دي چې د ا راوښیي چې په محصولاتو کې پرمختګ شوی دی، او دا راوښیي چې بدلونونه د متوقع پایلو له لارې رامنځته شوي.

درې ډوله شاخصونه شته:

- **د محصول شاخص:** دا هغه شاخصونه دي چې د محصول د تکمیل د تعقیبولو لپاره کارول کیږي (یو چمتو کړشوی محصول یا خدمت)
- **د پایلې یا د فعالیت شاخص:** دا هغه شاخصونه دي چې د محصول د تکمیل په پایله کې د لنډ مهاله بدلونونو کچې.
- **د اغیزې شاخص:** دا هغه شاخصونه دي چې د مداخلې اوږدمهاله بدلون کچې، د محصول په پایله کې.

یو شاخص په لاندې ډول رامینځته شوی:

**د کچلو یعني اندازه کولو واحد + هغه څه چې کچل کیږي / تعقیب کیږي (د شننې واحد) + (اړونده توپیر)**

## بېلګې:

- د هغو ښځو شمیر (یا فیصدي) چې د بشردوستانه پلان جوړونې او غبرګون په پړیکړه کولو کې برخه اخلي + (د عمر ګروپ له مخې څله جلا شوي)
- د ښځو تر مشرۍ لاندې د ایډووکېسي کمپاینونو شمیر چې د بشردوستانه غبرګون په اړه تنظیم شوي وي + (د سیمې له مخې څله جلا شوي)

## اساسي ارزښتونه او موخې

هر شاخص یو بنسټیز ارزښت او موخه ته اړتیا لري

[8] OECD Glossary of Key Terms in Evaluation and RBM (2002) https://www.oecd.org/dac/evaluation/2754804.pdf

یو **بنسټیز** ارزښت هغو معلوماتو ته وايي چې د پروژې په پیل کې راټول شوي وي چې د شاخص د پیل ټکي څرګندوي. د پایلو او اغیزو شاخصونو لپاره، یو بنسټیز کرښه په ړومبي ځل هغه مهال وي چې ډاټا راټولیږي. په ځینو حالاتو کې، دا په شاخص پورې اړه لري، دا ځینې وختونه صفر (0) هم کیدی شي.

*د بېلګې په توګه، د شاخص لپاره، "د هغو ښځو شمیر چې د بشري پلان جوړونې او غبرګون په پریکړه کولو کې برخه اخلي"، ستاسو د پروژې له پیل څخه مخکې کېډلای شي ستاسو د موخې د سیمې راپور کې له 50 ښځو څخه فقط 10 ښځې په غبرګون کښې ګډون وکړي. په داسې یوه حالت کښې، 10 ښځې به ستاسو بنسټ وي.*

*که چیرې له "فیصدي" څخه هم کار واخلئ (پر شمیر سربېره)، نو دا به دا مانا ولري چې 20٪ (یا له 50 ښځو څخه 10 ښځې) کېډلای شي تاسو سروې کړې وي چې د پریکړې کولو پروسو کې برخه اخلي. 20٪ (10 د 50 څخه) به ستاسو بنسټ وي.*

د محصول شاخصونو لپاره، بنسټیز ارزښت عموما صفر (0) دی ځکه چې مداخله مخکښې نه وه.

*د شاخص لپاره "د ښځو تر مشرۍ لاندې د ایډووکیسي کمپاینونو شمیر چې د بشردوستانه غبرګون په اړه تنظیم شوي وي"، ستاسو د پروژې په پیل کې کېډلای شي مخکښې هیڅ کمپاین نه وي ترسره شوی. مانا دا چې ستاسو بنسټ به 0 وي.*

**موخې** هلته وي چېرته چې تاسو غواړئ د پروژې په پای کې اوسئ. موخې باید د ریښتیانو وي او له مداخلې سره سمون ولري. ټول شاخصونه باید یوه موخه ولري. د ورته شاخص په کارولو سره، دلته یو مثال دی:

*د شاخص لپاره، "د هغو ښځو شمیر چې د بشري پلان جوړونې او غبرګون په پریکړه کولو کې برخه اخلي"، شاید تاسو احساس کوئ چې ستاسو د مداخلو له لارې به دا له 10 میرمنو څخه 40 میرمنو ته لوړ شي (په 50 کښې). 40 به ستاسو موخه وي.*

*که تاسو له "فیصدئ" څخه هم کار اخلئ، او تاسو احساس کوئ چې ستاسو مداخلې به د پرېکړې په پروسو کې د ګډون کولو لپاره د ښځو ورتیا زیاته کړي، ستاسو موخه ممکن 80٪ وي (40 له 50 څخه)*

*بله بیلګه، د "د ښځو په مشرۍ د ایډووکیسي کمپاینونو شمیر چې د بشردوستانه غبرګون په اړه تنظیم شوي وي" د شاخص په کارولو سره، ستاسو پروژه پلان لري چې د ښځو په مشرۍ د ایډووکیسي د 5 کمپاینونو ملاتړ وکړي. 5 به ستاسو موخه وي.*

## د تصدیق او سرچینو وسیلې

*د پایلو په چوکاټ کې هر شاخص د تغیر وسیلو او سرچینې ته هم اړتیا لري.*

*د تایید وسیله مانا ده چې 'څنګه' (طریقه) تاسو ډاټا راټولوئ. دا د ډاټا راغونډولو د میتودولوژي په توګه هم پیژندل کیږي. بېلګې: د اسنادو بیاکتنه، مرکې، سروې، ارزونه، مشاهده، د فوکس ګروپ مباحثه او نور.*

*یوه سرچینه دا ده چې 'چیرته' به تاسو به خپل معلومات ترلاسه کړئ. مثالونه: ملي سروې، اداری احصایې، په نخښه شوي نفوس، او داسې نور .*